بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## په سوریه کې د روسیې او امریکا تحرکات؛ د موړک او پیشو لوبه!

**(ژباړه)**



پوښتنه:

پوهیږو چې روسیې له امریکا سره په همغږۍ یا یې په امر، په سوریه کې د دې لپاره مداخله وکړه چې د سوریې د نظام د پرځېدو مخه ونیسي او سیاسي حل لارې – له مخالفینو سره جګړې- ته زمینه برابره کړي. خو په ورته وخت کې لیدل کیږي چې امریکا نه غواړي په استانه، سوچي او نورو ځایونو کې له روسیې سره د نظام او مخالفینو په یو ځای کېنولو کې ګډ کار وکړي او که یې شتون درلوده هغه هم یوازې د اردن په څېر د وضیعت څارلو لپاره و او بس؛ یعنې دا چې امریکا د سوریې په قضیه کې روسیه په پښو ور ټېل وهي او په لاسو یې بېرته را کشوي، نو د دغه دوه‌ګوني برخورد تفسیر څه دی؟

ځواب:

د دغې مسلې تفسیر کولی شو په دوو کلیمو کې را لنډ کړو: د امریکا غرور او د روسیې حماقت، چې شرحه یې داسې ده: دا ریښتیا ده چې د روسیې مداخله له امریکا سره په همغږۍ یا د هغې په امر او یا یې په مصلحت شوې ده؛ په هغې بیانیه کې چې د ۲۰۱۵م کال د اکتوبر په ۱۱ مو خپره کړه؛ په دې اړه مو داسې ویلي وو: « ... همغه وو چې امریکا په کړکېچ کې ښکېل شوه؛ څکه له یوه لوري داسې ښيي چې له انقلابیونو سره ده او له هغوی څخه ملاتړ کوي؛ نو څګه ورته ستونزمنه ده چې په ښکاره ورسره جګړه وکړي او دا په داسې حال کې ده چې انقلابیونو د سوریې دولت سخت ځپلی؛ له بل لوري، هغه ځایناستی چې امریکا یې په سوریه کې په لټه کې ده، لا پوخ شوی نه دی. همغه و چې دغه ککړه او خونړۍ لوبه پیل شوه او د ترسره کولو مسولیت یې د روسیې پر غاړه واچولو او روسیې ته دا دنده ورکړل شوه چې په

سوریه کې له حاکم نظام څخه ملاتړ وکړي او له انقلابیونو سره وجنګېږي. د سوریې نظام د امریکا په امر رسما له روسیې مرسته وغوښته او روسیې هم په همدې( د سوریې دولت د غوښتنې) پلمه له انقلابیونو سره جګړه پیل کړه. نو روسیې ومنله چې د امریکا د خدمت لپاره په سوریه کې دغه خونړی او چټل رول ولوبوي.»

همدا راز مو دا موضوع د ۲۰۱۵م کال د نومبر په ۱۸مه د « د سوریې وروستي تحولات» تر سرلیک لاندې د یوې پوښتنې په ځواب کې ډېره واضح خپره کړې او پکې ویلي مو وو: « پر سوریه باندې د روسیې تېری، یوه ورځ وروسته له هغې چې د ۲۰۱۵م کال د سپټمبر په ۲۹مه، اوباما او پوتین ۹۰ دقیقې ناسته درلوده، د ۲۰۱۵م کال د سپټمر په ۳۰مه پیل شو. د دغې ناستې په لومړی برخه کې، د اوکراین پر موضوع خبرې اترې وشوې او په ادامه یې دواړو ولسمشرانو د سوریې پر موضوع تمرکز وکړ. د دغې ناستې پایله یوه ورځ وروسته یعنې د ۲۰۱۵م کال د سپټمبر په ۳۰مه ښکاره شوه او د روسیې د یووالي شورا د رایو په اتفاق سره په سوریه کې د روسیې د هوایي بریدونو په اړه د پوتین غوښتنه ومنله.» (سرچینه: نن روسیه د ۲۰۱۵م کال د سپټمبر ۳۰مه)

ان هغه سنګرونه چې د سوریې په خاوره کې د روسیې تر برید لاندې راځي، ډېری یې له امریکا سره په همغږۍ وو، لکه څنګه چې د ۲۰۱۵م کال د اکتوبر په ۴مه، سي ان ان ټلویزیون د جنرال اندري کارتاپلوف، چې د روسیې په پوځ کې د ارکانو له رهبرانو څخه دی، له خولې د ۲۰۱۵م کال د اکتوبر په ۳مه رپوټ خپور کړ چې پکې ویلي یې وو :« هغه سیمې چې په سوریه کې د روسیې تر برید لاندې راغلې، مخکې د امریکا له خوا مسکو ته د داسې سیمو په توګه وروپېژندل شوې وې چې هلته یوازې ترهګر دي.» د روسیې تاس اژانس هم د یاد جنرال له خولې لیکي: « امریکا موږ ته د هغو ګډو اړیکو له لارې چې لرو یې خبر راکړ، چې په دې سیمه کې له ترهګرو پرته بل څوک نشته.»

په دې ترتیب، امریکا، روسیه په سوریه کې ښکیل کړه چې هلته له حاکم نظام څخه ملاتړ وکړي او د امریکا له غوښتنې سره سم د متناسبې حل لارې لپاره فضا برابره کړي؛ نه دا چې روسیه د یوه بیل دخیل او پر اوضاع مسلط اړخ په توګه د سوریې لپاره د حل لارې په لټه کې وي. خو روسیې د خپل سیاسي حماقت او ناپوهۍ له امله، له هغو وحشیانه کړونو وروسته چې په سوریه کې یې ترسره کړې او د نظام د سقوط مخه یې ونیوله، ګومان کاوه چې کولای شي سیاسي حل لاره هم اداره کړي او دا تصور یې هېڅکله نه کاوه چې امریکا به ورسره مخالفت کوي؛ بلکې دا باور یې درلود چې امریکا به د دوی د هغه وحشیانه رول له کبله چې په سوریه کې یې ولوبولو، بې له شکه له دوی سره به هره پرېکړه کې همغږې وي.

روسیې د خپل همدغه ناسم ګومان او احمقانه تصور پر اساس، د آستانې او سوچي غونډې ونیولې، مختلفې ډلې یې ورته راوبللې او په دې اړه یې ډېرې برنامې جوړې کړې او له امریکا یې وغوښتل چې په دغو غونډو کې د ګډون تر څنګ په غونډو کې لوی رول هم ولوبوي. څنګه چې بیسکوف په خپلو خبرو کې وویل: « په دې وروستیو کې د سوریې کړکېچ د حل اړوند ځینې مثبت پرمختګونه شوي؛ خو نوو سطحو او نوعیتونو ته د دغو پرمختګونو د رسولو لپاره پکار ده چې ګډې هڅې وشي او د دې کار لپاره اړینه ده

چې د روسیې او امریکا تر منځ په یو ډول نه یو ډول تعامل وشي.» (سرچینه: اورینټ نیوز، ۲۰۱۷م د نومبر ۴مه)

روسیې تمه درلوده چې وبه کولی شي چې د اوپیک ناستې په جریان کې، چې د ۲۰۱۷م کال د نومبر په ۱۰مه په ویتنام کې وشوه، د پوتین او ټرمپ د لیدنې زمینه برابره کړي او ځو ځو ځلې او په ښکاره یې د دوړاو ولسمشرانو تر منځ د دا ډول کتنو غوښتنه وکړه. د روسیې دغې غوښتنې دوام درلود، ان تر دې کچې چې د اوپیک ناستې په جریان کې هم مطرح شوه، چې دا د سوریې په قضیه کې له امریکا سره همغږۍ ته د روسیې اړتیا ښیي؛ خو امریکا دغه غوښتنې ونه منلې او یوازې دا یې ومنله چې د دواړو ولسمشرانو له خوا دې ګډه بیانیه خپره شي؛ داسې چې وښیي لیدنه شوې، په داسې حال کې چې هېڅ کومه لیدنه نه وه شوې، بلکې د دواړو خواوو د چارواکو له خوا جوړه شوې ګډه بیانیه وه او دواړو ولسمشرانو مختصرا د رسنیو په مخ کې یو بل ته لاس ورکړ، چې دا هم امریکا ته د روسیې د ذلیلانه زاریو یوه بېلګه ده.

په دې کې هېڅ شک نشته چې روسیه ډېره ښه پوهېږي چې له امریکا پرته د دې مسلې حل او فصل نشي کولی. له همدې امله امریکا ته په دې هیله پرله پسې  غوښتنې لېږي چې ګوندې ومنل شي. لکه مخکې مو چې اشاره وکړه؛ د روسیې له خوا له ټرمپ سره د پوتین د لیدنې غوښته، ذلیلانه او له زاریو ډکه وه.

دا چې روسیه بېړه لري د سوریې قضیه ژر حل او یو طرفه یې کړي؛ پوتین، جنایتکار بشار اسد سوچې ته وربللی  او د ۲۰۱۷م کال د نومبر په ۲۰مه یې ورسره وکتل او د ۲۰۱۷م کال د نومبر په ۲۱مه یې ټرمپ ته د دغې لیدنې خبر ورکړ. په دې اړه د (نن روسیې) شبکې داسې رپوټ ورکړ: « ولادیمیر پوتین، نن سه شنبې له خپل امریکایي سیال سره په ټلیفوني خبرو کې د سوریې د کړکیچ پر بحث ټینګار وکړ او له بشار سره یې د کتنې د پایلو په اړه ورسره خبرې وکړې.» ( سرچینه: نن روسیه ۲۰۱۷م د نومبر ۲۱مه)

په دې ترتیب، روسیه په بېړه او په ټول توان سره کوښښ کوي چې د سوریې کړکېچ حل و فصل کړي او د تل په څېر فکر کوي چې په دې بحران کې د امریکا تر څنګ یوازینی لوی ځواک ده. نو لیدل کېږي چې په ډېر شوق او وېره د سیاسي حل لارې په لټه کې ده چې باید نن او له سبا مخکې مطرح شي؛ ځکه چې دا تر ټولو مناسب کار دی چې روسیه یې کولای شي له دې نه په استفادې سره له دغې معضلې ځان وژغوري؛ ځکه چې په سیاسي حل لاره کې، هغه درانه لګښتونه چې په بېلابېلو برخو کې- په ځانګړې توګه د نظامي ګډون اقتصادي لګښتونه-- له روسیې څخه کېږي، درېږي.

ټولو ذکر شوو مواردو ته په کتو سره مخکښه روسیه د داسې ناستو وړاندیز کوي چې د دوی په فکر د سوریې د کړکېچ د سیاسي حل لاره هواروي، لکه بشار یې چې روسیې ته راوغوښت، وروسته یې اردوغان او روحاني او اوس د یوې داسې غونډې د جوړلو لپاره په برنامه ریزۍ بوخته ده چې پکې به د دوی په وینا « د سوریې د خلکو ټول قشرونه» ګډون وکړي، تر څو د دغه کړکېچ لپاره حل لاره ولټوي.

روسیه هڅه کوي چې د سیاسي حل لارې د ګړندي کولو لپاره امریکا هم اړه کړي چې په دغې غونډه کې ګډون وکړي، لکه څنګه یې چې اعلان وکړ چې غواړي له سوریې څخه خپل یو څه سرتېري راوباسي. د

روسيې د وسلهوالو ځواکونو د ارکان رييس جيراسيموف په خپلو خبرو کې وويل: « په اغلب ګومان، په سوريه کې به د روسي ځواکونو شمېر تر ډېرې کچې کم شي او بنايي دا کار د روان ميلادي کال تر ختمېدو مخکې وشي.» (سرچينه: يورو نيوز ۲۰۱۷م کال د نومبر ۲۳مه)؛ خو امريکا د روسيې دغه بلنې د تېر په څېر تل وروسته کوي.

دا ده هغه لوبه چې امريکا يې د سوريې په قضيه کې له روسيې سره کوي؛ يعنې هغوی يې د سوريې په ککړ ډنډ کې يوازې پرېښي، غوښتنو ته يې پام نه کوي او په ډېری مسايلو کې ورسره همغږي نه کوي، پرته له يو څو وو چې هغه هم د امريکا د شريکانو له خوا کېږي.

له پورته خبرو داسې ښکاري چې د سوريې د بحران د سياسي حل لپاره د روسيې ټولې هڅې ناکامېږي؛ ځکه چې روسيه عملا په سوريه کې د امريکا له خوا د ککړو اوبو لوی ډنډ کې بنده پاتې ده. امريکا د دغه ډنډ په اړه هېڅ نه وايي او روسيه هڅوي چې په سوريه کې د انقلابيونو او اسلامي ويښتيابه(بېداری) د بهير پر وړاندې د امريکا د تسلط د يوې وسيلې په توګه خپل کار ته ادامه ورکړي، له دې پرته چې د دغه کړکېچ په حل کې دې د رهبرۍ کوم رول ولوبوي؛ خو امريکا دغه موخه نه په ډاګه کوي کوي او په هغو ناستو او کنفرانسونو کې چې په مسکو او سوچي کې ترسره کېږي، هم ګډون کوي.

مخکې له دې چې له امريکا سره د روسيې مسير روښانه شي، د سوريې د کړکېچ د حل لپاره د روسيې ټول وړانديزونه او پرمختګونه بايد ناکام او عاجز ثابت شي او د امريکا د ګډون غوښتونکي شي. کله چې د سوريې د قضيې ټول مواد ښه تيار او پاخه شي، له هغې وروسته تمه کېږي چې امريکا مستقيما او د ملګرو ملتونو او يا په سيمه کې په دوی پورې تړلو دولتونو له لارې ځان ورمخکې کړي او د کړکېچ د حل لپاره اقدام وکړي.

دا دي په سوريه کې د امريکا او روسيې تحرکات ـ د موږک او پيشو لوبه ـ او بايد په ډاګه کړو چې دغه تحرکات د الله سبحانه وتعالی په امر سره، د مسلمانانو له لوري د کنټرول او ماتېدو وړ دي، که چېرې وسلهوالې ډلې استقامت وکړي او په سيمه کې د امريکا له مزدورانو، په ځانګړې توګه ترکيې او سعودي سره اړيکې قطع کړي او په اخلاص او صداقت د يو بل په څنګ کې د الله سبحانه و تعالی د ټينګې رسۍ په نيولو سره د استعمارګرانو پر وړاندې مبارزې ته دوام ورکړي. هغه وخت به د الله سبحانه و تعالی په خوښه د روسيې او امريکا ټولې هيلې د سوريې له خوا له خاورو سره خاورې شي او ملا به يې ورماته کړي او هغوی به په ذلت او سرټيټۍ له دغې پاکې ځمکې داسې ووځي چې بيا به شاته هم راونه ګوري. دا کار د عزيز او مقتدر الله لپاره هېڅ سخت نه دی.

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربيع الاول ۲۱مه**
**۲۰۱۷م کال، د ډسمبر ۹مه**

**ژباړن: عبادالله**